مطبوعاتي اعلاميه

# پخواني مجاهدین په ځلونو د امریکا له نېشه چیچل کېږي؛ نو څه وخت عبرت اخلي!؟

دا څووم ځل دی چې امریکا د پخوانیو مجاهدینو هڅو او سزښندنو ته پاملرنه نه کوي او لرې یې غورځوي. په بدل کې یې هغه ژمنه مهره چې یو سیکولر او ډیموکراټ شخصیت دی او د مفکورې او احساساتو له مخې د افغانستان له مسلمانو سره هېڅ اړیکه نه لري، قدرت ته رسوي.

کله چې پخوانیو مجاهدینو په کلک عزم او اخلاص د شوروي اتحاد پر وړاندې جهاد او مبارزه وکړه، الله سبحانه وتعالی عزت او نصرت ورکړ، له همدې امله یې د خلکو په زړونو کې ځای ونیو. خو په ۲۰۰۱ز کې له بن کنفرانس وروسته یو شمېر پخوانیو مجاهدینو د افغانستان سیاسي برخلیک او وثیقه په ډېرې سرټیټۍ او ذلت د اشغالګرې او کافرې امریکا منګولو ته وسپاره او عزت یې له امریکا او غرب سره په دوستۍ کې ولټاوه. له دې امله الله سبحانه وتعالی دوی امریکا ته پرېښودل؛ ځکه دا د الله سبحانه وتعالی سنت دی چې هره ډله چې اسلام ته نصرت ورکړي، بریالۍ او سرلوړې کوي یې او هره ډله چې د الله سبحانه وتعالی له دین سره خیانت وکړي، ذلیله او رسوا کوي یې.

امریکا په تېرو ۱۹ کلونو کې په خپل منفعت محوره سیاست یوه ډله پخواني مجاهدین د متاع او استهلاکي توکو په څېر وکارول. هغوی ته یې د امریکایي نظام د مشروعیت ورکولو لپاره په قدرت کې ونډه ورکړه او د کاربدلو د وخت له تېرېدو وروسته یې د قدرت او سیاست له صحنې وایستل. لکه څنګه یې چې د دوی ځینې مخکښ رهبران فزیکي او شخصیتي ترور کړل، نو تر ډېره د خلکو له سیاسي ملاتړه هم خلاص شول. له امریکا او ناټو سره دوستۍ هم د دغو رهبرانو اړیکه له خپل خالق سره خرابه کړه او هم یې په خلکو کې خپل اعتبار او مقام له لاسه ورکړ.

نن چې یو شمېر پخواني مجاهدین د «ټول شموله» حکومت دعوه لري، دا کوم اساسي دریځ نه دی چې د اسلام د مبدا پر اساس وي او یا د اشغالګرې امریکا اجنډا وګواښي، بلکې دا کار د همغو تېرو سیاسي تېروتنو تکرار دی، چې موخه یې امتیاز اخیستل دي او د دوی له لاسه وتلي قدرت او عزت سره هېڅ مرسته نه کوي.

حزب‌التحریر یو ځل بیا مخلصانه تذکر ورکوي چې اوس هم د جبران فرصت شته، چې له خیانتونو او مکررو ترسره شوو حوادثو عبرت واخلي او الله سبحانه وتعالی ته توبه وباسي. پر دې سربېره د امریکایي اشغال او د جمهوریت او ډیموکراسۍ د مفکورو پر وړاندې په درېدو او د اسلامي ارزښتونو د حاکمولو لپاره په مبارزه له الله سبحانه وتعالی او خلکو سره خپل عزت بیا ترلاسه کولی شي او له دې لارې خپلې ګناوې جبران کړي. الله سبحانه وتعالی رحمن او رحیم ذات دی او انسانان د خپلو اعمالو د خاتمې پر اساس محاسبه کوي. (**إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ**) نازعات:۲۶ آیت. له شک پرته په دې کې د هغه چا لپاره عبرت دی چې (له الله متعال څخه) وېرېږي.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**